ګلاب شاه ګلاب
۲۰۱۸/۱۰/۰۶

# له اړتیا زیاتي مدرسي
# د افراطیت او ترهګرۍ خوړولو اساس (بنسټ)!

مدرسو په پخوا زمانه کې د دین حکومونو رسولو او خلکو ته د امر پر معروف او نهی له منکره دنده مخته وړله او په هغو کې روزل شوي طالبان به په ملایانو بدل او خلکو ته یې د دین حکومونه بیانول، د اړتیا پروخت به یې د خلکو ترمنځ د معاملو په حل کې هم مرسته کوله خو تر ډېره به پر عبادتونو بوخت او کله ناکله یې د واکمنو په خوښه او مصلحت د ځینو پیښو په اړه فتواوي هم ورکولي چې دغه حالت څوپیړۍ دوام وکړ. د ټولنیزو اړیکو په پراختیا او د مادي ژوند پرمختګ سره د ټولني نورو پاړکو په شان د ملایانو او مدرسو رول هم ورو ورو بدل کړ او په دې سره د مخالفینو ټکولو او په خپله د واکمنو ترمنځ د واک پر سر شخړو کې د اوزار په توګه له دین، ملا او مدرسې کاراخیستل هم دود شول سره له دې چې دغه کار هم اوږده مخینه لري چې له حسنک وزیر سره د سلطان مسعود غزنوي چلند یې یوه بېلګه ده.(۱) د واک پر لاډېر مرکزي کېدو او د پانګې او پانګوالي په راپیدا کېدو له دینه د اوزارو په توګه کارونه هم پراخه شوه. له دینه داوزار په توګه کاروني تر ټولو ستره بېلګه په افغانستان کې د امیر امان الله خان د واکمني پیر دی چې ټکاوونه یې ترننه هم احساسپړي او قرباني اخلي. د ګوډ ملا، حضرتانو او نورو بغاوت د اماني پیر سمون او پرمختګ هڅې شنډې او په افغانستان کې یې د پرمختګ بهیر ډېر شاته وغورځولو. د ډموکراسي په لسیزه کې بیا هم تر ډېره د بهرنیو کړیو په لمسون ځیني د پرمختګ ضد خوځښتونه ولیدل شول. په همدغه وخت کې د زده کونکو او محصلینو نجونو پرمخونو د تیزابو پاشل او ورسره د بستیالو ډلو ټپلو جوړېدل چې وروسته یې سرونه د افغانستان تاریخي غلیم له کړیوانه راووتل.
پر افغانستان د پخواني شوروي یرغل په پیر د سړې جګړې کټلو په تمه او هم د تیلو سیمو ته د سرو لښکرو ورتګ مخنیوي په پار د له دینه د سیاسي وسلې په توګه کاروني او د غلیم ماتولو حرص نه یوازې افغانستان بلکې سیمي او نړۍ خو تر ډېره هغو لورو چې ددې وسلې کارلو مخکښان او نوښتګر وو ورانونکي پایلي تجربه کړې.
د کمونیزم ماتولو په هڅه امریکا او عربانو او پر سیمه د اسلامي خلافت تر پردې لاندې د پاکستاني ستراتېژیستانو خوبونو داسي بلاوې وزېږولي چې اوس ټوله نړۍ په یوه نه یوه بڼه تري خوندي نه ده. یادو لورو هریو په خپله موخه د پیسو ویالي پر پاکستان راسپړي او پاکستانیانو د خپل ستراتېژیک عمق موخې ته د رسېدو په موخه نه یوازې له مظلومو افغان بچیانو بلکې د سیمي له خوارو او بې وزله اولسونو داسي لښکر جوړ کړ چې قابو کولو ته یې اوس ټول هک حیران پاتي دي. پاکستان د عربو شیخانو او امریکا پر پیسو د افراطیت خورلو(د ګاونډیانو پرضد د خطرناکي او ارزانې وسلې په توګه) او له هغه د خپلو ملیتاریستي موخو ته د رسېدو له پاره زرګونه مدرسي جوړې کړې. په دې مدرسو کې لسګونه زره افراطیان وروزل شول چې پاکستاني ستراتېژیستانو د خپلو پخوانیو مهرو(تنظیمونو) د رسوایي او ناکارګي پر وخت ډګر ته راوړاندي کړل. له هغه ځایه چې پاس هم یادونه وشوه د شاوخوا لسو کلونو (پر افغانستان د پخواني شوروي پوځي یرغل پروخت) په اوږدو کې په پاکستان کې زرګونه مدرسي جوړې شوې وې او له هغه وروسته یې هم فعالیت دوام درلود او لا یې هم لري، لسګونه زره داسي کسان فارغ شوي چې د افراطیت پر ایدیولوژي سمبال او په ډېره بې باکي د خپل او بل وینو تویولو ته چمتو ول. ای اس ای دغه لښکر داسي مهال پر افغانستان راتوش کړ چې ولس له تنظیمي خرمستي او انډوخره کړېده. طالبانو د خپلې واکمنی په پیر د هېواد دننه چې څه ناتار جوړ کړی و یوه خوا پرېږده بلکې په نړیواله کچه یې هم د بې وطنه بدمعاشانو په لاس د سپتمبر یوولسمي ناورین رامنځته کړ چې پایله یې موږ ټولو د سر پر سترګو ولیده.
پاکستاني ستراتېژستانو ته هغه مهال داسي ارزانه څه چې وړیا ګټوره(۲) او خطرناکه وسله په لاس ورغله چې لګښت یې د عربو شیخانو له خیراتونو پوره کېده. تر شاوخوا پنځه کاله وړاندي هم د افغانستان له بیلابیلو ولایتونو د بې وزله افغانو کورنیو ماشومان د پاکستاني مدرسو ته تلل چې له همغو مدرسو بیا د طالبانو د جګړې لیکې پرې ډکې او پیاوړې کېدې خو له بیلابیلو ولایتونو ترلاسه شوي وروستي مالومات ښیي چې په دې وروستیو کلونو کې چې پاکستاني چارواکي له ډیورنډ کرښې تېرېدو له پاره پر پاسپورت ټینګار کوي او بې وزله کورنۍ د پاسپورت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اخیستو توان نه لري او بله دا چې د هېواد دننه اوس بې شمېره مدرسې جوړې او له ډېرونډ کرښې هاخوا مدرسو ته د ورتلو اړتیا یا نه لیدل کېږي او یا هم کمه لیدل کوي. اوس د هېواد بېلابېلو سیمو کې د پوهنې وزارت د مالوماتو له مخې شاوخوا ۱۲ نیم سوه ثبت او راجستر دیني مدرسې شته چې په هغو کې یوازې او یوازې دیني کتابونه چې ډېر یې څو پېړۍ مخکې لیکل شوي او د نن ورځې له شرایطو او ټولنیزو اړیکو سره اړخ نه لګوي تدریسېږي.
که دا چاره په پخوا کې یوازې د فضل الرحمان، سمیع الحق، قاضي حسین احمد او نورو له پاره له یوې خوا د پاکستان د پوځ مټ پیاوړي کولو او د خپلو جیبونو ډکولو له پاره کارېده اوس همدغه حالت افغانستان کې روان دی.
اوس د افغانستان هر ولایت کې له سلګونو زیاتې داسې مدرسې شته چې په سیستماتیک ډول د طالبانو د جګړې لیکې پرې پیاوړې کېږي. طبیعي ده چې طالبان د هېواد بېلابېلو سیمو کې پر امنیتي ځواکونو بریدونه کوي او د امنیتي او دفاعي ځواکونو اړوندانو د مرګ ژوبلې ترڅنګ طالبانو ته هم خورا درنه مرګ ژوبله اوړي خو څرنګه چې د وژل شویو طالبانو تشه د مدرسو روزل شوي کسان ډکوي نو ځکه خو جګړه د سړښت پرځای ورځ تربلې تودېږي. بې وزله کورنۍ چې ښوونځیو ته د خپلو زامنو په لېږلو له یوې خوا له کورنیو سره هغوی (بچیان) د بزګرې یا بلې خوارې مزدورې پرځای نیمه ورځ په ښوونځي کې تېروي او وروسره یې د ښوونځي سربېره د خوراک پوښاک لګښت هم د کورنۍ پرغاړه وي خو مدرسې ته د خپل زوی یا زامنو په لېږلو سره نور لګښت خو پرېږده چې د هغوی خوراک او پوښاک هم د مدرسې پراغاړه وي دغه راز، د ذکاتونو، خیراتونو، د مړو سقاطونو او نورو چاندو له پلوه پیسې هم ګټې چې تر ډېره ښایي له دې پیسو یوه برخه خپلو کورنیو ته هم ورکړي.
په اوسني وخت کې ځینې کسان د سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي موخو له پاره پرته له دې چې پایلو ته یې پام وکړي د مرسو جوړولو ته مخه کوي. داسې کسان هم شته چې د عربو له شیخانو پیسې راټولوي(۳) او د لته د خپل سیاسي او ټولنیز دریځ پیاوړي کولو ترڅنګ خپل جیبونه هم پرې ډکوي او دایې د ګټې ښه، لنډه او اسانه لار موندلې ده. ددغو کسانو په لیدلو سره نور هم دغه کار ته هڅېږي نو ځکه خو ورځ تربلې دلته او هلته مدرسې د مرخیړیو په شان را زرغونېږي.
سره له دې چې ټول یې د سر پر سترګو ګوري خو د دې له پاره چې څوک خدای مه کړه د بې دیني ټاپه پرې ونه وهي نو ځکه خو چوپه خوله پاتې دي. دغه حالت دې ته پاتې کېږي لکه د موټر بریکونه چې له کاره لوېدلي وي او په کې ناست سپرلي مخامخ د خطر پر لور روان وي خو څوک د ځان ژغورنې ان هغه لږ هڅه هم نه کوي.
په ولایتونو او ان مرکز کې ځینې کسان د خپلو اقتصادي ګټو خوندي کولو او ټولنیز دریځ پیاوړتیا په موخه له مدرسو سره مرسته کوي په داسې حال کې چې ډېر همدغه کسان نور ډېر ناروا کارونه هم کوي خو له له مدرسو سره په مرستو غواړي ځانونه ښه مسلمانان خلکو ته ور وپېژني. ان ځینې کسان چې له اروپا، امریکا، استرالیا او نورو ملکونو راځي ددې له پاره چې څوک یې پر مسلماني شک ونه کړي نو تر ټولو لومړی مدرسو سره مرسته کوي په داسې حال کې چې ډېر نږدې خپلوان مرستې او لاسنیوي ته جدي اړتیا لري خو دوی بیا مرسته له مدرسې سره کوي. دغه کار نه یوازې وروسته بلکې همدا اوس ناوړه سیاسي، ټولنیزې او ان اخلاقي اغیزې لري.
له سیاسي پلوه: دغه زرګونه کسان چې له مدرسو فارغېږي دوی هم ځانونو ته پر لوړ ټولنیز دریز قایل دي ځکه خلک ورته مولوي صاحب وایي نو ځکه خو دغه کسان ځانونه له پوهنتونه د طب، انجنیرۍ، اقتصاد، حقوقو، ساینس، ادبیاتو، کمپیوټر یا نورو څانګو فارغانو سره برابر ګڼي خو څرنګه چې له پوهنتونو فارغانو ته په دولتي یا هم خصوصي بنسټونو کې له خپلې څانګې سره سم یا لږ و ډېر توپیر کارونه پیدا کېږي او که په خپله مسلکي څانګه کې نه وي په نورو برخو کې هم کار پیدا کولی شي. د بېلګې په توګه په وروستیو کلونو کې ډېر هغه کسان چې له حقوقو، اقتصاد او نورو برخو فارغ شوي وو خو په مسلکي برخو کې کار ورته پیدا نه شولو، لاړل په ښوونځیو کې یې د ښوونکو دندې پیدا کړې. خو دغه لسګونه زره کسان چې له مدرسو فارغېږي دوی باید په جومات کې د امامت دنده مخته یوسي چې ډېر یې پر دې دنده قانع هم نه دي خو همدغه امامت هم ټولو ته نه پیدا کېږي چې په دې سره لسګونه زره کسان د پوهنتونونو فارغانو سره یو ډول رخه پیدا کوي ځکه چې ځانونه د هغوی سیالان خو له ټولنیز او اقتصادي پلوه وروسره د پرتلې وړ نه دي پر همدغه دلیل په یو خطرناک لښکر کې د تنظیمېدو او د وران کارې له پاره په توه مانا چمتو کېدو وړتیا لري. په تېره چې یو ځل یې د حکومت د غصب مزه هم څکلې او تجربه کړې ده. بې دلیله نه ده چې د طالبانو په واکمنۍ کې پر ټولو ووزارتونو سربېره ټولې مسلکي څوکۍ ان د ۴۰۰ بستریز روغتون تر ریاست او د بانکونو تر ادارو پورې ملایانو نیولې وې چې دا په حقیقت کې د حقارت ګروم(عقدې) ارضا کولو یوه بڼه وه چې د پېریو پېریو په اوږدو کې رامنځته شوې وې. دغه حالت اوس هم روان دي کله چې له رسنیو اورو اوس هم طالبانو ټولو ولایتونو، ولسوالیو ته د والیانو او امنیه قوماندانانو ترڅنګ نور مسوولین هم ګومارلي دي چې په دې سره د واک غوښتنې خپله تنده پرې ماتوي.
د دولت وسله والو مخالفینو تر ولکې لاندې سیمې خو پر ځای پرېږده ان د دولت تر واکمنۍ لاندې سیمو په ډېرو مدرسو کې د طالبانو فکر او عمل په ښکاره او ډانګ پیېلې توګه پلې کېږي. لرې نه د کابل اړوند ولسوالیو کې د مدرسو فارغانو مراسمو په بلنلیکونو کې د هغو طالبانو انځورونه په ډېر ویاړ د اسلام د لارې شهیدانو په توګه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کښل شوي او بلونکو ته ورلېږل کېږي. دغه پاڼې د بلنليک پر ځای د تبليغاتي پاڼو په توګه کارول کېږي چې په خورا لوړ لګښت په رنګه بڼه چمتو شوې وي.
دغه راز، پر ځينو مدرسو د امنيتي ځواکونو عملياتو په پايله کې يو شمېرکسان له وسلو او مهماتو سره نيول شوي هم دي چې له مدرسو د طالب وسله والو ګټنې ښکار ثبوت ګڼل کېږي.
سياسي ټولنيز اغيز: له هغه ځايه چې په دې مدرسو کې يو ګونی نصاب نه پلی کېږي هر مدرس د خپلې خوښې او هغه نصاب مخته وړي چې دی پرې روزل شوی چې له يوې خوا خو ډېرزوړ او ان د منځنيو لا څه چې د هجري لمريز لومړيو پېړيو پورې تړاو لري او د همغه وخت فقيانو چمتوکړي کتابونه په کې تدريسېږي چې په هيڅ صورت د ننني زمانې له ټولنيزو، فرهنګي او اقتصادي شرايطو سره اړخ نه لګوي. له بلې خوا پر افغانستان د پخواني شوروي يرغل په پير د عربي نړۍ وهابي، سلفي او نورو مکتبونو هم ډېر خلک اغيزمن کړي چې په ځينو په تېره ختيځو ولايتونو کې همدا اوس د حنفي او سلفي مدرسو ترمنځ اختلاف ان پر يو بل د وسله والو بريدونو تر پولو رسېدلی. د بېلګې په توګه څه موده مخکې په کونړ کې د حنفي او سلفي  ملايانو ترمنځ پر دې شخړه او مناظره شوې چې د مړي پر قبر دې يوه تيګه ودرول شي که دوه؟ حنفي ملايانو په دوديزه بڼه د دوو تيګو لګېدو پلوي کوله خو سلفيانو بيا د يوې تيګې لګول شرعي ګڼل چې دا لانجه بيا د سيمې مخورو او چارواکو په لاسوهنه غوڅه شوه. په همدغه کونړ کې مشهور حنفي ملا ضيا الرحمان الله يار په توره شپه کې سلفيانو ځکه په ډزو ټپي کړ چې سلفيان يې بې لارې ګڼل. دا خو اوس وړې  مسلې دي خو همدغه وړې مسلې هم يو وخت پر سترو ستونزو څه چې پر وسله والو نښتو بدلېدی شي په تېره چې خبره تکفير ته ورسېږي نو خطر په رښتينې مانا رامنځته کېدی شي.
اخلاقي ستونزه: له هغه ځايه چې په مدرسو کې داسې کوم نظم او قانون نه شته چې ماشومان، تنکي ځوانان او ځوانان د اوسېدنې جلا ځايونه ولري نو ځکه خو د ناروا جنسي اړيکو او تېري ګواښ په کې ډېر وي. په دې اړه ډېر تاييد شوي او ناتاييد شوي رپوټونه هم خپاره شوي دي. همدا څو ورځې مخکې په ټولنيزو رسنيو کې د کومې مدرسې طالبانو د لواطت په اړه ويډيو کښته او پورته کېده. د اروا پوهانو په اند ډېر ځانمرګه بريدګر په مدرسو کې د جنسي تېرو قربانيان پاتې شوي.(۴)
وړانديزونه:
ـ په لومړي ګام کې بايد په دولتي کچه پوهان، وتلي ديني عالمان په تېره هغوی چې عصري او هم ديني علومو کې لوړې رسمي زده کړې لري د ديني مدرسو مسله له پوهنې، لوړو زده کړو، حج او اوقافو او اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونو او حقوقپوهانو سره په ګډه وڅېړي او په دې اړه يو داسې کړنلاره جوړه کړي چې له مخې يې په هېواد کې دومره مدرسو ته اجازې ورکړل شي چې اړتيا يې وي نه له هغه زياتې.
ـ هيچا ته پر خپل سرد مدرسې جوړلو يا چلولو اجازه ورنه کړل شي.
ـ د مدرسو نصاب دې په داسې بڼه جوړ شي چې د ديني علومو ترڅنګ عصري علوم هم په کې تدريس شي، ځکه کله چې يو څوک له ديني مدرسې فارغېږي بايد په دولتي او نادولتي بنسټونو کې د کار کولو وړتيا هم ولري. په دې برخه کې بايد د هغو هېوادونو او نړيوالو بنسټونو مالي مرسته جلب شي چې له ترهګرۍ او افراطيت سره د مبارزې ليوالتيا لري.
ـ د مدرسو د تمويل پر سرچينو بايد څارنه وشي او د تمويل سرچينې او د لګولو ځای ګی يې مالوم وي يانې دوی بايد د دخل او خرڅ روښانه سيستم ولري او په دې سره د بې پټې پيسو او سود خوښو کسانو مخه ونيل شي.
ـ هيڅ مدرسې ته اجازه ورنه کړل شي چې ماشومان، تنکي ځوانان او ځوانان يو ځای وساتي.
ـ او د وروستي وړانديز په توګه  له قلموالو، رسنيو او ټولو هغو کسانو چې د ټولنې په اړه د مسووليت احساس کوي په درنښت هيله کېږي چې دا مسله عادي او بې ارزښته ونه ګڼي او په دې اړه خپل مسووليت ادا او چوپه خوله پاتې نه شي.

پای

(۱): د غزنوي سلطان مسعود په زمانه کې د بې ديني په تور د حسنک وزير غرغره کولو او د شاوخوا ۷ کلونو له پاره د ښار په منځ کې د هغه د مړي ځړول يې يوه بېلګه ده. تاريخ بيهقي ۲۳۲ مخ
(۲): په پاکستان کې د مدرسو کره شمېر نه دی مالوم، ځينو دغه شمېر ۲۰ زره ښودلی خو ځينو نورو بيا ان تر ۵۰ زره هم زيات اټکل کړی چې تر ډېره په افغانستان او کشمير کې د ترهګريزو بريدونو له پاره سرتېري روزي. د افغانستان د پوهنې وزارت د مالوماتو له مخې د افغانستان دولتي او خصوصي ښوونځيو شمېر ۱۸ زرو ته رسېږي چې په دې کې شاوخوا ۱۲ نيم سوه ثبت او راجستر رسمي ديني مدرسې هم شامل دي. خو په پاکسان کې د افراطيت خوروولو، په ګاونډيو هېوادونو(افغانستان او هند کې)، د سيمې او ان ټولې نړۍ کې د ترهګريزو بريدونو له پاره لسګونه زره مدرسې فعالې دي. لاهور کې د خدام الدين په نوم مدرسې مسوول يو وخت ويلي و چې له يادې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

مدرسې يې ۱۴ زره جګړه مار کشمير ته لېږلي. عجيبه خو يې لا دا چې د دغه خطرناک لښکر(د پاکستاني مدرسو)لګښت هم دعربو شيخان ورکوي خو ستراتېژي بيا د پاکستان د پوځ پلې کوي.
(۳): عرب شهزاده ګان او شيخان چې د تيلو له برکته باد راوړې پيسې او د غربي هېوادونو د ملاتړ پر مټ سم ژوند لري، له يوې خوا تجملي او له عيش او نوشه ډک ژوند ته مخه کړې او په اسراف او خوند اخيستنه کې افراط کوي، له بلې خوا پر خپلو ملکونو د حاکمې دوديزې ديني او فرهنګي تربيې له مخې نه شي کولی د مذهبي انديښنو پروړاندې يو مخ بې توپيره پاتې شي. دغه متناقض وضعيت ددوی ډېرو مذهبيانو وجدان په عذابوي . ځينې دغه شيخانوته د خپلو عياشو کفاره په بې وزله ملکونو کې د خيرښېګڼې او مذهبي پروژو (له مدرسو)سره مرسته کې ښکاري او ګومان کوي په دې توګه به په مذهبي ژوند کې خپلې کمۍ پوره کاندي.
محمد محق. سترګې به پرانيزو. ۱۷۲ مخ
(۴): ځينې قربانيان د وجدان په عذاب اخته کېږي؛ ځکه که په لومړيو کې په زوره دغه کار ته اړشوي؛ خو وروسته يې په خپله خوښه دغه کار کړی او ځنګه چې په ديني روايتونو کې دغه عمل تر زنا او ډېرو نورو ګناهونو بدتر ګڼل شوی دوی ځانونه ګناه کار او پليد ګڼي... کله چې احساس وکړي چې دا ګناهونه په عادي او متعارفو عبادتونو لکه توبه، استغفار، روژه او نورو نه پاکېږي، هغه لنډه لار چې ورته ښکارېږي، انتحار دی؛ ځکه دوی ته ويل شوي چې دديني مقدسو ارمانونو پوره کولو له پاره تر ټولو لوړه فداکاري همدا انتحار دی.
هماغه اثر. ۱۸۳ او ۱۸۴ مخونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ